دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده ګڼه

- د۱۳۴۳کال په (۱،۲،۳ او۴)ګڼه رسمي جريده کې خپورشوي د تجارتي محاکماتوداصولودقانون(۱)ګڼه ضميمه
- دخوراکي توکود خوندیتوب (مصئونيت)قانون
- د تروريستي جرمونواودکورني اوبهرني امنيت پرخلاف دجرمونو په هکله د جزايي اجراآتودقانون(۱)ګڼه ضميمه

- ضميمه شماره (۱) قانون اصول محاکمات تجارتی منتشرۀ جريده رسمی شماره(۱،۲،۳و۴)سال ۱۳۴۳
- قانون مصئونيت مواد غذايی
- ضميمۀ شماره (۱) قانون اجراآت جزايی درموردجرايم تروريستی وجرايم عليه امنيت داخلی وخارجی

دخپرېدونېټه: د۱۳۹۵هـ.ش کال دوږي دمياشتې (۱۶)
پرله پسې نمبر:(۱۲۲۲)

تاريخ نشر: (۱۶) سنبله سال ۱۳۹۵ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۲۲۲)

د امتیــاز خاوند: دعدلیــې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مرستیال:نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمــــم:محمد جان ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲

وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت: (۱۷/۲۸)افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰)جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۷۲)صفحه

مطبعه: صــــــدف

آدرس:وزارت عــدلیه، ریاست نشرات و ارتباطعــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

**د خوراكي توكو د خونديتوب د قانون په اړه د ملي شوري د مجلسينو د مصوبو د توشېح په هكله د افغانستان اسلامی جمهوريت د رئيس**

**فرمان**

**ګڼه: (۷۴)**

**نېټه: ۷/ ۱۳۹۵/۵**

**د عدليې محترم وزارت ته!**

**لومړۍ ماده:**

**د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (١٦) فقرې دحكمونو له مخې، د خوراكي توكو د خونديتوب د قانون په هكله د ولسي جرګې د ۹/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۱۵) ګڼه مصوبه او د مشرانو جرګې د ۱۳۹۵/۴/۲۹ نېټې (۲۰۹)ګڼه مصوبه په (٦) فصلونو او (۳۰) مادو كې، توشېح كوم.**

**دوه يمه ماده:**

**دغه فرمان د ملي شوري د مجلسينو له**

**فرمان**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح مصوبات مجلسين شورای ملی پيرامون قانون مصئونيت مواد غذايی**

**شماره: (۷۴)**

**تاريخ: ۱۳۹۵/۵/۷**

**به وزارت محترم عدليه!**

**مادهٔ اول:**

**به تأسی از احكام فقرهٔ (١٦) مادهٔ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، مصوبهٔ شماره (۲۱۵) مؤرخ ۹/ ۴/ ۱۳۹۵ ولسی جرگه ومصوبهٔ شماره (۲۰۹)مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۲۹ مشرانو جرگه را در مورد قانون مصئونيت مواد غذايی در (٦) فصل و(۳۰) ماده، توشيح می دارم.**

**مادهٔ دوم:**

**اين فرمان همراه با مصوبات مجلسين**

مصوبو او د یاد شوي قانون له متن سره یو ځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

شــــورای ملـــی و مـــتن قـــانون متـــذکره در جریـــدهٔ رســـمی نشـــر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرګه

د خوراكي توكو د خونديتوب

(مصئونيت) قانون

مصوبه

پرله پسې ګڼه: (۲۱۵)

د تصويب نېټه: ۹/ ۴/ ۱۳۹۵

ولسي جرګې د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له درج شوي حكم سره سم، د ۹/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې د چهارشنبې ورځې په عمومي غونډه كې د خوراكي توكو د خونديتوب(مصئونيت) د قانون طرحه په (٦) فصلونو او(۳۰) مادو په دننه كې په مجلس كې د حاضرو غړيو د رأيو په اكثريت تصويب كړه.

الحاج عبدالرووف ابراهيمي

د ولسي جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبۀ

قانون مصئونيت

مواد غذايی

شماره مسلسل: (۲۱۵)

تاريخ تصويب: ۱۳۹۵/۴/۹

ولسی جرگه به تأسی از حكم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، در جلسۀ عمومی روز چهارشنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۹ خويش طرح قانون مصئونيت مواد غذايي را بداخل (٦) فصل و(۳۰) ماده به اكثريت آرای اعضای حاضر در مجلس تصويب نمود.

الحاج عبدالرووف ابراهيمی

رئيس ولسی جرگه

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**مشرانو جرګه**

**د خوراکي توکود خو ندیتوب**

**"مصئونیت" قانون په هکله**

**مصوبه**

**ګڼه: (۲۰۹)**

**نېټه: ۲۹/ ۴/ ۱۳۹۵**

**د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې له حکم سره سم، مشرانو جرګې د ۲۹/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې د سه شنبې په عمومي غونډه کې د خوراکي توکو د خوندیتوب "مصئونیت" قانون د رأیو په اکثریت تصویب کړ.**

**فضل هادي مسلمیار**

**د مشرانو جرګې رئیس**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مشرانو جرگه**

**مصوبۀ**

**در مورد قانون مصئونیت**

**مواد غذایی**

**شماره: (۲۰۹)**

**تاریخ: ۱۳۹۵/۴/۲۹**

**به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، مشرانو جرگه قانون مصئونیت مواد غذایی را در جلسۀ عمومی سه شنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۲۹ خویش به اکثریت آراء تصویب نمود.**

**فضل هادی مسلمیار**

**رئیس مشرانو جرگه**

## فهرست مندرجات

## قانون مصئونیت مواد غذایی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۲۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۲۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲۲ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق | ۲۷ |
| مادهٔ پنجم: | مراجع تطبیق | ۲۷ |


### فصل دوم

### مسئولیت کنترول مصئونیت مواد غذایی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ ششم: | مسئولیت ها | ۲۸ |
| مادهٔ هفتم: | وظایف و صلاحیت ها | ۲۸ |
| مادهٔ هشتم: | بورد ملی مصئونیت مواد غذایی | ۳۳ |


### فصل سوم

### مواد غذایی و شرایط تجارت آن


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ نهم: | مواد غذایی ممنوع | ۳۵ |
| مادهٔ دهم: | شرایط تولید، تورید و صدور مواد غذایی | ۳٦ |
| مادهٔ یازدهم: | تدوین ستندرد ملی | ۳۷ |
| مادهٔ دوازدهم: | منع تورید یا زرع مواد غذایی | ۳۷ |
| مادهٔ سیزدهم: | برچسب گذاری | ۳۸ |
| مادهٔ چهاردهم: | برچسب گذاری مجدد و اصلاح محموله | ۳۸ |

مادۀ پانزدهم: مواد غذایی غیر صحی................................۳۹
مادۀ شانزدهم: مکلفیت مالک تشبث مواد غذایی........................۳۹

فصل چهارم

تفیش

مادۀ هفدهم: تفتیش مصئونیت مواد غذایی............................۴۰
مادۀ هجدهم: همکاری با تفتیش......................................۴۳
مادۀ نزدهم: اتخاذ تدابیر مصئونیت مواد غذایی و تطبیق آن...........۴۴
مادۀ بیستم: عدم مطابقت مواد غذایی با ستندرد ملی...................۴۵
مادۀ بیست ویکم: رعایت تدابیر مصئونیت مواد غذایی....................۴۶

فصل پنجم

مؤیدات

مادۀ بیست ودوم: جریمه.....................................................۴۶
مادۀ بیست وسوم: حق شکایت.................................................۵۰

فصل ششم

احکام متفرقه

مادۀ بیست وچهارم: حالات اضطراری مصئونیت مواد غذایی..................۵۰
مادۀ بیست وپنجم: ردیابی....................................................۵۱
مادۀ بیست وششم: معادلۀ تدابیر مصئونیت مواد غذایی.....................۵۲
مادۀ بیست وهفتم: نشر و اطلاع دهی تدابیر مصئونیت مواد غذایی..........۵۲
مادۀ بیست وهشتم: وضع مقرره ها و طرزالعمل ها.........................۵۴
مادۀ بیست ونهم: تقلیل اثرات منفی در شرایط مصئونیت مواد غذایی......۵۵
مادۀ سی ام: تاریخ انفاذ...................................................۵۶

# د خوراکي توکو د خونديتوب (مصئونيت) قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د يوولسمې او ديارلسمې مادې د حکمونو په رڼا کې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د انسان د روغتيا او ژوند ساتنه.

۲- د اتباعو د معيشت ښه والی او د خوراکي توکو خونديتوب.

۳- د وارداتي، صادراتي او په دننه (داخل)کې د توليد شوو خوراکي توکو د خونديتوب تأمينول.

۴- دباکيفيته او خوندي خوراکي توکو عرضه کول.

# قانون مصئونيت مواد غذايی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين قانون در روشنی احکام مواد يازدهم وسيزدهم قانون اساسی افغانستان، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين قانون عبارت اند از:

۱- حفاظت صحت و زندگی انسان.

۲- بهبود معيشت اتباع و مصئونيت مواد غذايی.

۳- تأمين مصئونيت مواد غذايی وارداتی، صادراتی وتوليد شده در داخل.

۴- عرضۀ مواد غذايی با کيفيت و مصئون.

## اصطلاحگاني

**درېیمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحگانې په دې قانون کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- د خوراکي توکو خوندیتوب: د مستهلکینو لپاره د خوراکي توکو له صحي والي څخه د هغو د برابرولو یا مصرف پر وخت، د ډاډ ترلاسه کول دي.

۲- خوراکي توکي: پروسس شوي، نیمه پروسس شوي یا اومه(خام) توکي دي چې د انسان د مصرف لپاره برابرېږي.

۳- د خوراکي توکو ابتدایي تولید: د حیواني، نباتي او کرنیزو محصولاتو کبنت، پالنه، درمند ، لوشل او تولید دی.

۴- د خوراکي توکو د خوندیتوب تدبیرونه: د اړوندو قوانینو، مقررو د حکمونو او کړنلارو له په پام کې نیولو سره د خوراکي توکو، حیواني، نباتي او کرنیزې،توریدی او تولیدی

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱-مصئونیت موادغذایی: حصول اطمینان از صحی بودن مواد غذایی ، برای مستهلکین حین تهیه یا مصرف آن است.

۲- مواد غذایی: مواد پروسس شده، نیمه پروسس شده یا خام است که برای مصرف انسان تهیه می‌شود.

۳-تولید ابتدایی موادغذایی: زرع، پرورش، خرمن، دوشیدن و تولید محصولات حیوانی، نباتی و زراعتی است.

۴- تدابیرمصئونیت موادغذایی: اتخاذ اقدامات حفظ الصحۀ مواد غذایی حیوانی، نباتی و زراعتی، توریدی و تولیدی با نظر داشت احکام قوانین، مقرره ها و طرزالعمل های

حفظ الصحې د اقداماتو کول دي.

۵- غیر صحي حالت: هغه حالت دی چې د خوراکي توکو د ککړتیا باعث شي او د انسان روغتیا ته مضر وي.

۶- د خوراکي توکو حفظ الصحه: هغه شرایط دي چې د خوراکي توکو د تولید د ځنځیرې په ټولو پړاوونو کې د خوراکي توکو له خوندیتوب او مناسب والي څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په منظور، په پام کې نیول کېږي.

۷- ککړوونکي: هغه توکي دي چې عمداً په خوراکي توکو کې نه اضافه کېږي، خو د خوراکي توکو د تولید، جوړښت، برابرولو، پروسس، بسته بندۍ، حمل او نقل یا ساتلو په وخت کې او یا د ژوند چاپیریال د ککړتیا له امله، په هغو کې پیدا کېږي.

۸- خوراکي زیاتوونکي توکي: هغه توکي دي چې په یوازې سر د خوراک په توګه ورڅخه استفاده نه کېږي او د خوراکي توکو د اصلي ترکیب جزء نه دي او په خوړو کې په عمدي توګه په اضافه کولو سره، په مستقیم یا نا

مربوط است.

۵- حالت غیر صحی: حالتی است که باعث آلودگی مواد غذایی گردیده وبه صحت انسان مضر باشد.

۶- حفظ الصحۀ مواد غذایی: شرایطی است که به منظور حصول اطمینان از مصئونیت ومناسب بودن موادغذایی در تمام مراحل زنجیرۀ تولید مواد غذایی در نظر گرفته می شود.

۷- آلوده کننده : مادۀ است که عمداً در مواد غذایی اضافه نگردیده، اما حین تولید، ساخت، تهیه، پروسس، بسته بندی، حمل ونقل یا نگهداری مواد غذایی و یا در اثر آلودگی محیط زیست، درآن پیدا می شود.

۸- مواد افزودنی غذایی: موادی است که به تنهائی به حیث غذا استفاده نگردیده و جزء اصلی ترکیب مواد غذایی نبوده و با اضافه نمودن عمدی آن در غذا، طور مستقیم یا غیر مستقیم جزء از مواد غذایی

مستقیم ډول د خوراکي توکو جـزء کېږي. ککړوونکی، د ساتنې او تغذیوي کیفیت د ښه والي لپاره زیات شـوي توکي او سودیم کلوراید، په دې تعریف کې نه شاملېږي.

۹- ککړتیا: هغه حالـت دی چــې د خوراکي توکو د ککړېدو باعث کېږي.

۱۰- درغلي: په خوراکي توکو کې د اجنبي یا نا اغېزمنو توکو اضافه کول یا د هغو د ارزښتمن او ضروري ترکیب د جزء اخیستل دي د تېراېســتلو یــا د ارزښت د لوړولو یا د هغو د عیوبــو د پټولو په منظور.

۱۱- ترکیبي اجزاء: هغه تــوکي دي چې د خوراکي توکو په جوړولــو یــا برابرولو کې تر استفادې لاندې نیــول کېږي او په وروستني محصول کــې د شکل په بدلون سره شتون ولري.

۱۲- تجهیزات: ماشین آلات، دستگاه او نور وسایل دي چې د خوراکي توکو په تولید، جوړولو، پروســس، بســته بندی، صندوق کولو، لېبل لګولو، لېږد، ځای پر ځای کولو، سرویس او ذخیره

می گــردد. آلــوده کننــده، مــواد افــزود شــده جهــت نگهــداری و بهبود کیفیــت تغــذیوی و ســودیم کلورایــد، شــامل ایــن تعریــف نمی گردد.

۹- آلودگی: حالتی است که باعــث ملوث شدن مواد غذایی می گردد.

۱۰- تقلب: اضافه نمودن مواد اجنبی یا غیر مؤثر در مواد غذایی یا بر داشتن جزء ترکیب با ارزش و ضــروری آن است، به منظور فریب یا بلند بــردن ارزش یــا پنهــان نمــودن عیــوب آن.

۱۱- اجزای ترکیبی: موادی است که در ساخت یــا تهیــۀ مــواد غــذایی مورد استفاده قرار گرفته و در محصول نهــایی بــا تغییــر شــکل موجــود باشد.

۱۲- تجهیــزات: ماشــین آلات، دستگاه و سایر وسایل است کــه در تولید، ساخت، پروسس، بسته بنــدی، صندوق کردن، برچســب گــذاری (لیبــل)، انتــقال، جابجــایی،

کولوکې تر استفادې لاندې نیول کېږي.

۱۳- بسته بندي: د لېږد او ذخیرې په وخت کې له ویجاړېدو او ککړتیا څخه د مخنیوي لپاره، په لوښوکې، د خوراکي توکو ځای پر ځای کول دي.

۱۴- د خوراکي توکو تشبث:د هغو فعالیتونو مجموعه ده ، چې د تولید، جوړښت، برابرولو، پروسس، باربندۍ، بسته بندۍ، ځای پر ځای کولو ذخیرې یا پلورلو لپاره تر سره کېږي.

۱۵- دخوراکي توکو د تولید ځنځیره: له ابتدایي تولید څخه تر پلور او د مستهلک لاسرسۍ ته د هغو تر ورکولو پورې د خوراکي توکو د تولید پړاوونه دي.

۱٦- ردیابي: د خوراکي توکو د تولید، جوړولو، وېشلو، مبدأ او مقصد دپړاوونو، د خوراکي توکو د مؤلد حیوان، مارغانو(طیورو) یا هغو توکو چې په خوراک کې د زیاتېدو لپاره په پام کې نیول شوي دي تشخیص او پېژندل.

سرویس و ذخیرۀ مواد غذایی مورد استفاده قرار می گیرد.

۱۳- بسته بندی: جابجایی مواد غذایی درظروف، جهت جلوگیری از تخریب وآلودگی آن، حین انتقال و ذخیره است.

۱۴- تشبث مواد غذایی: مجموع فعالیت های که جهت تولید، ساخت، تهیه، پروسس، باربندی، بسته بندی، جابجا، ذخیره یا فروش انجام می شود.

۱۵- زنجیرۀ تولید مواد غذایی: مراحل تولید مواد غذایی است از تولید ابتدایی الی فروش وبه دسترس قرار دادن آن به مستهلک.

۱٦- ردیابی: تشخیص و شناسایی مراحل تولید، ساخت، توزیع، مبدأ و مقصد مواد غذایی، حیوان مؤلد موادغذایی، طیور یا موادی که برای افزودن درغذا در نظر گرفته شده است.

۱۷- د خوراکي توکو د خوندیتوب اضطراري حالت: هغه تصادفي یا عمدي حالت دی چې د واکمنــي اداري پــه تشخیص، له خوراکي توکــو څخــه راپیداشوې ناروغی، عامې روغتیا تــه جدي او ناکنترول شوی خطــر وارد کړي او عاجلو اقداماتو ته اړتیا ولري.

۱۸- دسته(Batch): د خوراکي توکو د مقدار ما حصل دی چې په یوه پړاو او تولیدي نوبت کې تر عین شرایطو لاندې په عین ترکیب او کیفیت تولید شــوی وي.

۱۹- د دســـــتې ګڼـــــه (Batch Number): د تولید د یــوې دســتې ځانګړې ګڼه ده.

۲۰- د خطر مدیریت: هغه تګلاره ده چې د انسان د روغتیا د ســاتنې او د عادلانه سوداګرۍ د ترویج په منظور د مخنیــــوي او کنتـــرول د مناســـبو غورونو(ګزینو) د ټاکلو لپاره، له ذینفع اړخونو سره په مشوره کې تر استفادې لاندې نیول کیږي.

۲۱- بر چسب:هغه کاغذ، چې د جـــنس

۱۷-حالت اضطراری مصئونیت مواد غذایی: حالت تصادفی یا عمدی است که به تشخیص ادارهٔ ذیصلاح، امراض ناشی از مواد غذایی، خطر جــدی و کنترول ناشده را به صحت عامه وارد نموده و نیاز به اقدامات عاجل داشته باشد.

۱۸-دسته (Batch): ماحصل مقدار مواد غذایی است که در یک مرحله و نوبت تولیدی تحت عین شرایط به عین ترکیب و کیفیــت تولیــد گردیــده باشد.

۱۹- شـــــماره دســــــته (Batch Number): شمارهٔ مخصوص یــک دسته تولید است.

۲۰- مدیریت خطر: روشی است که به منظور حفاظت صــحت انســان و تــرویج تجــارت عادلانــه جهــت انتخاب گزینه های مناسب جلوگیری وکنترول، در مشوره با طــرف هــای ذینفـــع مـــورد اســتفاده قـــرار می گیرد.

۲۱- برچسب:کاغذی که برآن نوع جنس،

ډول د جوړولوځـــای، د انقضـــا نېټــه او نورمشخصات پر هغوکې درج وي.

۲۲- دخوراکي توکو ستندرد: د خوراکي توکو د کميت او کيفيت د منلو لپاره د ټاکل شوو مشخصاتو مجمو عه ده.

## د تطبيق ساحه

### څلورمه ماده:

ددې قانون حکمونه په هغو خـــوراکي توکو اوحقيقي اوحکمي اشخاصو باندې تطبيقېږي، چې خوراکي توکي توليـــد، پروسس، توريد،صادروي، ســـاتنې او عرضه کوي.

## د تطبيق مراجع

### پنځمه ماده:

د عامې روغتيا، کرنې، اوبولګولـــو او مالدارۍ وزارتونه، د ســـوداګرۍ او صنايعو، ماليې وزارتونه او د مـــــلي ســــتندرد اداره ،ددې قـــــانون د حکـــمونو د تطبيق مراجـــــع دي.

محل ساخت، تـــاريخ انقضـــاء و ديگـــر مشخصات در آن درج می باشد.

۲۲- ستندرد مـــواد غـــذايی: مجمـــوع مشخصات تعيين شده برای پذيرش کميت و کيفيت مواد غذايی می باشد.

## ساحهٔ تطبيق

### مادهٔ چهارم:

احکام اين قانون بالای مواد غـــذايی و اشخاص حقيقـــی و حکمـــی تطبيـــق می گردد که مواد غذايی را توليـــد، پروسس، توريد ، صادر ، نگهداری و عرضه می نمايند.

## مراجع تطبيق

### مادهٔ پنجم

وزارت هـــــای صــــحت عامـــــه، زراعت،آبياری ومالداری، وزارت های تجارت و صنايع، ماليـــه وادارهٔ ملـــی ستندرد، مراجع تطبيق احکام اين قانون می باشند.

## دوه یم فصل

## د خوراکي توکو د خوندیتوب د کنترول مسئولیت

**مسئولیتونه**

**شپږمه ماده:**

(۱) د عامې روغتیا وزارت د پروسس شوو خوراکي توکو د خوندیتوب د کنترول مسئولیت پر غاړه لري.

(۲) د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د نیمه پروسس شوو حیواني، نباتي او کرنیزو اومو او تازه محصولاتو د کیفیت د کنترول او د تولید د خوندیتوب مسئولیت پر غاړه لري.

**دندې او واکونه**

**اوومه ماده:**

(۱) د عامې روغتیا او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت هر یو د خپلو مسئولیتونو په محدوده کې د لاندې دندو او واکونو لرونکي دي:

۱- د ستندرد له ملي ادارې سره په همکارۍ کې د خوراکي توکو د

## فصل دوم

## مسئولیت کنترول مصئونیت مواد غذایی

**مسئولیت ها**

**مادۀ ششم:**

(۱)وزارت صحت عامه مسئولیت کنترول مصئونیت مواد غذایی پروسس شده را به عهده دارد.

(۲)وزارت زراعت، آبیاری و مالداری مسئولیت کنترول کیفیت و مصئونیت تولید محصولات خام و تازۀ حیوانی، نباتی و زراعتی نیمه پروسس شده را به عهده دارد.

**وظایف و صلاحیت ها**

**مادۀ هفتم:**

(۱) وزارت صحت عامه و وزارت زراعت، آبیاری ومالداری هر یک در محدودۀ مسئولیت های خویش دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشند:

۱- طرح ستندرد های مواد غذایی در همکاری با ادارۀ ملی

ستندردونو طرح او په هغو پورې د اړوندو خبرتیاوو خپرول.

۲- د خوراکي توکو په کنترول، خوندیتوب او سوداګرې پورې د اړوندو معلوماتو راټولول، تنظیم او ارزول.

۳- د غوښتنې پر بنسټ، دولتي، نا دولتي ادارو، خصوصي سکتور او مستهلکینو ته د خوراکي توکو د کنترول، خوندیتوب او سوداګرۍ په هکله، د معلوماتو وړاندې کول.

۴- په بندرونو او د هېواد په مارکېټونو کې د وارداتي خوراکي توکو بیا پلټنه(بازرسي).

۵- د دولتي او نا دولتي ادارو او د سیمه ییزو او بین المللي سازمانونو د غوښتنې پربنسټ، د خوراکي توکو د خوندیتوب د تدبیرونو په هکله، د معلوماتو وړاندې کول.

۶- د خوراکي توکو د خوندیتوب د ستندردونو له په پام کې نیولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د خطر د مدیریت اجراء.

ستندرد و نشر اطلاعیه های مربوط آن.

۲- جمع آوری، تنظیم و ارزیابی معلومات مربوط به کنترول، مصئونیت و تجارت مواد غذایی.

۳- ارائه معلومات به ادارات دولتی، غیر دولتی، سکتورخصوصی و مستهلکین در مورد کنترول، مصئونیت وتجارت مواد غذایی به اساس تقاضا.

۴- بازرسی مواد غذایی وارداتی، در بنادر و مارکیت های کشور.

۵- ارائه معلومات در مورد تدابیر مصئونیت مواد غذایی، به اساس تقاضای ادارات دولتی و غیر دولتی و سازمان های منطقوی و بین المللی.

۶- اجرای مدیریت خطر، جهت حصول اطمینان از رعایت ستندرد های مصئونیت مواد غذایی.

۷- د درغلي، تاریخ تېرو او غیر ستندرد خوراکي توکو د محصولاتو له پلورلو څخه مخنیوی.

۸- د خوراکي توکو د خوندیتوب د تدبیرونو په هکله، اړوندو کورنیو او بهرنیو ادارو ته د معلوماتو وړاندې کول.

۹- د تورید له شرایطو سره د وړاندې شوو نمونو د نه مطابقت په هکله، سوداګریزو شریکانو ته خبرتیا.

۱۰- د خوراکي توکو د خوندیتوب په برخه کې د خبرتیاوو او نوو پرمختیاوو په هکله، له دولتي او نا دولتي ادارو او خصوصي سکتور سره د اړیکو تأمینول.

۱۱- د خوراکي توکو په رابطه د هڅونې او څېړنې د ترویج د زمینې برابرول.

۱۲- د خوراکي توکو د تولید د ځنځیرې له سکتورونو سره همکاري.

۱۳- له اړوندو ادارو سره په همکارۍ کې د خوراکي توکو او تغذیې د خوندیتوب د ښوونو(تعلمیاتو) ترویج.

۱۴- د اړوندو تقنیني سندونو له په پام

۷- جلوگیری از فروش مواد غذایی تقلبی، تاریخ گذشته و غیر ستندرد.

۸- ارائه معلومات به ادارات ذیربط داخلی و خارجی در مورد تدابیر مصئونیت مواد غذایی.

۹- اطلاع به شرکای تجارتی در مورد عدم مطابقت نمونه های ارائه شده با شرایط تورید.

۱۰- تأمین ارتباط با ادارات دولتی و غیر دولتی و سکتورخصوصی در مورد اطلاعات وانکشافات جدید در عرصهٔ مصئونیت موادغذایی.

۱۱- فراهم نمودن زمینهٔ تشویق و ترویج تحقیق در رابطه به مواد غذایی.

۱۲- همکاری با سکتورهای زنجیرهٔ تولید موادغذایی.

۱۳- ترویج تعلیمات مصئونیت مواد غذایی و تغذیه در همکاری با ادارات ذیربط.

۱۴- تعیین لابراتوارها جهت آزمایش،

کې نیولو سره د خوراکي توکو د نمونې د ازمویلو، تجزیې او تحلیل لپاره د لابراتوارونو ټاکل.

۱۵- د زده کړه ییزو برنامو جوړول او د اړوندو کارکوونکو د ظرفیت لوړول.

۱۶- د اړوندې کړنلارې مطابق، د اجرت د ورکړې په بدل کې د خوراکي توکو او د هغوی ترکیبي اجزاوو ازمویل، تجزیه او تحلیل.

۱۷- د مایکروبیولوژي او کیمیاوي توکو د پاتې شونو د پلټنې، ارزونې او ازمویلو د کړنلارې وضع کول.

۱۸- په خوراکي توکو کې د زیاتوونکو، کیمیاوي توکو د پاتې شونو د ککړوونکو د استفادې د ممنوعیت یا محدودیت وضع کول.

۱۹- د خوراکي توکو د خوندیتوب د اضطراري حالت تشخیص او مدیریت.

۲۰- د خوراکي توکو د تولید، پروسس، زېرمې، لېږد او د خرڅلاو د ځایونو د حفظ الصحې وضع کول.

۲۱- د جریمو وضع کول.

۲۲- د خوراکي توکو د تشبث مالک

تجزیه و تحلیل نمونهٔ مواد غذایی با نظر داشت اسناد تقنینی مربوط.

۱۵- تدویر برنامه های آموزشی و ارتقای ظرفیت کارکنان مربوط.

۱۶- آزمایش، تجزیه و تحلیل مواد غذایی واجزای ترکیبی آن در بدل پرداخت اجرت طبق طرزالعمل مربوط.

۱۷- وضع طرزالعمل تفتیش، ارزیابی و آزمایش مایکروبیولوژی و بقایای مواد کیمیاوی.

۱۸- وضع ممنوعیت یا محدودیت استفادهٔ مواد افزودنی، آلوده کننده بقایای مواد کیمیاوی در مواد غذایی.

۱۹- تشخیص و مدیریت حالت اضطراری مصئونیت مواد غذایی.

۲۰- وضع حفظ الصحهٔ تولید، پروسس، ذخیره، انتقال و محلات فروش مواد غذایی.

۲۱- وضع جریمه ها.

۲۲- صدور اخطار کتبی به مالک یا

یا مسئول شخص او ددې قانون له حکمونو څخه سرغړوونکو ته د لیکلي اخطار صادرول.

۲۳- د خوراکي توکو د خوندیتوب او طبیعي پېښو لپاره د خوراکي توکو د خوندیتوب په هکله د اضطراري حالت د استراتیژۍ، پالیسۍ او کړنلارو طرح کول او د هغو له تطبیق څخه څارنه.

۲۴- په تولیدي او توریدي خوراکي توکو پورې د اړوند ملي ستندرد له تطبیق څخه څارنه.

۲۵- د نا خوندي او تاریخ تېرو خوراکي توکو له اعلان څخه مخنیوی.

۲٦ – ددې قانون د حکمونو مطابق، د نورو دندو اجراء کول.

(۲) د ستندر د ملي ادارې دندې:

د اړوندو وزارتونو په تشخیص سره د ستندرد د ملي ادارې له لوري د واردېدونکو خوراکي توکو او کورنیو تولیداتو لابراتواري آزمایښتونو تر سره کول.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو وزارتونو نورې دندې او

شخص مسئول تشبث مواد غذایی و متخلفین از احکام این قانون.

۲۳- طرح استراتیژی، پالیسی و طرزالعمل ها در مورد مصئونیت مواد غذایی برای حالت اضطراری مصئونیت مواد غذایی و حوادث طبیعی و نظارت از تطبیق آن.

۲۴- نظارت از تطبیق ستندرد ملی مربوط به مواد غذایی تولیدی و توریدی.

۲۵- جلوگیری ازاعلان مواد غذایی غیر مصئون و تاریخ گذشته.

۲٦- اجرای سایر وظایف مطابق احکام این قانون.

(۲)وظایف ادارۀ ملی ستندرد: انجام آزمایشات لابراتواری مواد غذایی وارداتی و تولیدات داخلی توسط ادارۀ ملی و ستندرد به تشخیص وزارت های مربوطه.

(۳) سایر وظایف وصلاحیت های وزارت های مندرج فقرۀ(۱) این ماده،

واکونه، په اړوندو مقررو کې تنظیمیږي.

**د خوراکي توکو د خوندیتوب ملي بورډ**

**اتمه ماده:**

(۱) ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق او د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کولو په منظور، د خوراکي توکو د خوندیتوب ملي بورډ په لاندې ترکیب سره، رامنځته کیږي:

۱- د عامې روغتیا وزیر د رئیس په توګه.

۲- د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت معین د مرستیال په توګه.

۳- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۴- د مالیې وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۵- د لوړو زده کړو وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

٦- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

در مقرره های مربوط تنظیم می‌گردد.

**بورد ملی مصئونیت مواد غذایی**

**مادۀ هشتم:**

(۱) به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون و ایجاد همآهنگی میان ادارات ذیربط، بورد ملی مصئونیت مواد غذایی به ترکیب ذیل، ایجاد می گردد:

۱- وزیر صحت عامه به حیث رئیس.

۲- معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به حیث معاون.

۳- نمایندۀ با صلاحیت وزارت تجارت و صنایع به حیث عضو.

۴- نمایندۀ با صلاحیت وزارت مالیه به حیث عضو.

۵- نمایندۀ با صلاحیت وزارت تحصیلات عالی به حیث عضو.

٦- نمایندۀ با صلاحیت وزارت اطلاعات و فرهنگ به حیث عضو.

۷- د کابل ښاروالۍ واکمن استازی د غړي په توګه.
۸- د ملي ستندرد د اداري واکمن استازی د غړي په توګه.
۹- د سیمه ییزو ارګانونو د اداري واکمن استازی د غړي په توګه.
۱۰- د ژوند د چاپیریال ساتني د ملي اداري واکمن استازی د غړي په توګه.
۱۱- د عامې روغتیا وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.
۱۲- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.
۱۳- دافغانستان دسوداګرۍ او صنایعو اتاق واکمن استازی د غړي په توګه.
۱۴ – له مستهلکینو څخه د ملاتړ د اداري استازی د غړي په توګه.
(۲) د خوراکي توکو د خوندیتوب د ملي بورډ د غونډو د فعالیت او جوړولو ډول، په مقرره کې تنظیمیږي.

۷- نمایندهٔ با صلاحیت شاروالی کابل به حیث عضو.
۸- نمایندهٔ باصلاحیت ادارهٔ ملی ستندرد به حیث عضو.
۹-نمایندهٔ باصلاحیت ادارهٔ ارگانهای محل به حیث عضو.
۱۰- نمایندهٔ باصلاحیت ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست به حیث عضو.
۱۱-نمایندهٔ باصلاحیت وزارت صحت عامه به حیث عضو.
۱۲- نمایندهٔ باصلاحیت وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به حیث عضو.
۱۳-نمایندهٔ باصلاحیت اتاق تجارت وصنایع افغانستان به حیث عضو.
۱۴-نمایندهٔ ادارهٔ حمایت از مستهلکین به حیث عضو.
(۲)طرز فعالیت و تدویر جلسات بورد ملی مصئونیت مواد غذایی، در مقرره تنظیم می گردد.

## دریيم فصل
## خوراکي توکي او د هغو د سوداګرۍ شرايط

**ممنوع خوراکي توکي**

**نهمه ماده:**

(۱) د هغو خوراکي توکو توليد، واردول، صادرول، وېشل او پلورل چې د ملي ستندرد او د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو مطابق نه وي، ممنوع دي.

(۲) د حرامو خوراکي توکو توليد، واردول، صادرول، وېشل او پلورل، ممنوع دي.

(۳)ګمرکي مامورين مکلف دي، د مستهلکينو د روغتيا د ساتنې په منظور، د خوراکي توکو واردول او صادرول د دې قانون او د ګمرکونو د قانون د حکمونو مطابق، کنترول کړي.

## فصل سوم
## مواد غذایی و شرایط تجارت آن

**موادغذایی ممنوع**

**مادۀ نهم:**

(۱)تولید، تورید، صدور، توزیع و فروش مواد غذایی که مطابق ستندرد ملی و تدابیر مصئونیت موادغذایی نباشد، ممنوع می باشد.

(۲)تولید، تورید، صدور، توزیع و فروش مواد غذایی حرام، ممنوع می باشد.

(۳)مامورین گمرکی مکلف اند، به منظور حفاظت صحت مستهلکین، تورید و صدور مواد غذایی را طبق احکام این قانون و قانون گمرکات کنترول نمایند.

## د خوراکي توکو د تولید، واردولو او صادرولو شرایط

لسمه ماده:

(۱) هغه شخص کولای شي، هېواد ته هغه خوراکي توکي وارد کړي چې له مبدأ هېواده اړوند سندونه له ځانه سره ولري، په بندرونو کې بررسي شوي او له ملي، بین المللي او سیمه ییز (منطقوي) ستندرد او د خوراکي توکو د خوندیتوب له تدبیرونو سره مطابقت ولري .

(۲) ددې قانون مطابق، د تنظیم شوو خوراکي توکو تولید، واردول او صادرول یوازې د رسمي جواز لرونکو حقیقي او حکمي اشخاصو په واسطه صورت موندلای شي.

(۳) عمده پلورونکی مکلف دی، د خوراکي توکو د پلورلو په مقابل کې خپلو مشتریانو ته ، بل چې د مهر، لاسلیک او نېټې لرونکی وي، ورکړي.

## شرایط تولید، توريد و صدور مواد غذایی

مادۀ دهم:

(۱) شخصی می تواند، مواد غذایی را به کشور وارد نماید که اسناد مربوط را از کشور مبدأ به همراه داشته، در بنادر بررسی شده و با ستندرد ملی، بین المللی و منطقوی و تدابیر مصئونیت مواد غذایی مطابقت داشته باشد.

(۲) تولید، توريد و صدور مواد غذایی تنظیم شده طبق این قانون صرف توسط اشخاص حقیقی و حکمی دارای جواز رسمی صورت گرفته می تواند.

(۳)عمده فروش مکلف است، در مقابل فروش مواد غذایی برای مشتری خویش بل که حاوی مهر ، امضاء و تاریخ باشد بدهد.

## د ملي ستندرد تدوین

**یوولسمه ماده:**

ملي ستندرد، د خوراکي توکو د خوندیتوب د بین المللي ستندردونو پر بنسټ تدوین او پړاوونو څخه تېرېږي.

که چېرې بین المللي ستندرد شتون ونه لري، د علمي اصولو او مدارکو پربنسټ تدوین او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ او عامې روغتیا وزارتونو ستندرد د ملي ادارې په واسطه له پړاوونو څخه تېرېږي.

## د خوراکي توکو د واردولو یا کښت(کرلو) منع

**دوولسمه ماده:**

که چېرې د عامې روغتیا وزارت یا د کرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د خپل مسئولیت په محدوده کې تشخیص کړي چې د هېواد په یوه مشخصه ساحه یا په نورو هېوادونو کې د خوراکي توکو د خاص ډول واردول، کښت، درمند، اخیستل یا عرضه د مستهلکینو لپاره زیان رسوي، کولای

## تدوین ستندرد ملی

**مادۀ یازدهم:**

ستندرد ملی براساس ستندردهای بین المللی مصئونیت مواد غذایی تدوین و طی مراحل می گردد.

هرگاه ستندرد بین المللی موجود نباشد، به اساس اصول و مدارک علمی تدوین و توسط وزارت های زراعت، آبیاری ومالداری و صحت عامه و ادارۀ ملی ستندرد طی مراحل می گردد.

## منع تورید یا زرع مواد غذایی

**مادۀ دوازدهم:**

هرگاه وزارت صحت عامه یا وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در محدودۀ مسئولیت خویش تشخیص دهد که تورید، زرع، خرمن، اخذ یا عرضه گونه خاص مواد غذایی در یک ساحۀ مشخص کشور یا کشور دیگری برای مستهلکین ضرر می رساند، می تواند

شي د هغو واردول، کښت، حاصل، اخيستل يا عرضه د اړوندو ادارو په همکارۍ منع کړي.

## د ليبل لګول

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د خوراکي توکو بسته چې د هغې د پلورلو مقصد افغانستان وي، له رسمي يا بين المللي ژبو څخه په يوې د ليبل لرونکې وي.

(۲) د ليبل مشخصات، په اړونده مقرره کې تنظيمېږي.

## بيا ليبل لګول او د محمولې اصلاح

**څوارلسمه ماده:**

(۱) که چېرې د خوراکي توکو د محمولې ليبل د لېږد يا ذخيرې پر وخت ويجاړ شي، د هغې خاوند مکلف دی، د خوراکي توکو د خونديتوب د ملي بورډ د موافقې له اخيستلو وروسته هغه اصلاح کړي.

(۲) د محمولې خاوند ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې

تورید، زرع ، حاصل، اخذ یا عرضه آنرا به همکاری ادارات ذیربط منع نماید.

## بر چسب گذاری

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) بستهٔ مواد غذایی که مقصد فروش آن افغانستان باشد، دارای برچسب به یکی از زبان های رسمی یا بین المللی می باشد.

(۲)مشخصات برچسب، در مقررهٔ مربوط تنظیم می گردد.

## بر چسب گذاری مجدد و اصلاح محموله

**مادهٔ چهاردهم:**

(۱)هرگاه برچسب محمولهٔ مواد غذایی حین انتقال یا ذخیره تخریب گردد، مالک آن مکلف است، بعد از اخذ موافقهٔ بورد ملی مصئونیت مواد غذایی آنرا اصلاح نماید.

(۲) مالک محموله در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مکلف است، مطابق

مکلف دی، د اړوندې مقررې مطابق، د هغې په بيا ليبل لګونې اقدام وکړي يا هغه پخپل لګښت مسترد او يا يې له منځه څخه يوسي. له دې پرته د عامې روغتيا وزارت يا د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت کولای شي، د هغې د له منځه وړلو دستور صادر او لګښت يې له خاوند څخه مطالبه کړي.

## غيرصحي خوراکي توکي

**پنځلسمه ماده:**

په لاندې حالاتو کې خوراکي توکي غير صحي وي:

۱- په هغو کې د زهري يا د مضره توکو شتون.

۲- له خوراکي ستندرد سره سم، نه وي توليد شوي.

۳- تقلبي.

۴- تاريخ تېر .

## د خوراکي توکو د تشبث د خاوند مکلفيت

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د خوراکي توکو د تشبث خاوند

مقررۀ مربوط به برچسب گذاری مجدد يا اصلاح آن اقدام نمايد يا آنرا به مصرف خود مسترد و يا از بين برد. درغير آن وزارت صحت عامه يا وزارت زراعت، آبياری و مالداری می تواند، دستور از بين بردن آنرا صادر و مصرف را از مالک مطالبه نمايد.

## مواد غذايی غير صحی

**مادۀ پانزدهم:**

مواد غذايی درحالات ذيل غير صحی می باشد:

۱-موجوديت مواد زهری يا مضره درآن.

۲-مطابق به ستندرد غذايی توليد نگرديده باشد.

۳-تقلبی.

۴- تاريخ گذشته.

## مکلفيت مالک تشبث مواد غذايی

**مادۀ شانزدهم:**

(۱)مالک تشبث مواد غذايی مکلف

مکلف دی، د خوراکي توکو ځـــای، توکي، د کار او کارکوونکو محوطه، کاري بهیر او د تکنالوژۍ وسایل پـه اړوندو مقررو او کړنلارو کې د درج شوو حکمونو یــا د اړونـــد ســـتندرد مطابق، جوړ او چمتو کړي. تر څـــو د خوراکي توکو له فزیکي، کیمیاوي او بیالوژیکي ککړتیا څخه مخنیوی وشي.

(۲) د خوراکي توکو د تشبث خاوند مکلف دی، د فعالیت له پیل څخـــه د مخه، د خوراکي توکو د ثبت د پېژندلو نمبر له واکمنې ادارې څخه، ترلاســـه کړي.

## څلورم فصل

## پلټنه

## د خوراکي توکو د خوندیتوب پلټنه

اوولسمه ماده:

(۱) د عامې روغتیا وزارت او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، هر یو د خپل مسئولیت په محدوده کې کولای شي، د خوراکي توکو د خوندیتوب د تشخیص په منظور، پلټونکي توظیـــف

است، محل، مواد، محوطـــه کـــار و کارکنان، رونـــد کـــاری و وســـایل تکنـــالوژی مـــواد غـــذایی را طبـــق احکام مندرج مقرره ها و طرزالعمل ها یا ستندرد مربـــوط اعمـــار و آمـــاده ســـازد. تـــا از آلـــودگی فزیکـــی، کیمیاوی و بیالوژیکی مـــواد غـــذایی جلوگیری شود.

(۲) مالـــک تشـــبث مـــواد غـــذایی مکلـــف اســـت، قبـــل از شـــروع فعالیت، نمبر شناســـایی ثبـــت مـــواد غذایی را از ادارهٔ ذیصـــلاح، اخـــذ نماید.

## فصل چهارم

## تفتیش

## تفتیش مصئونیت مواد غذایی

مادهٔ هفدهم:

(۱) وزارت صـــحت عامـــه و وزارت زراعـــت، آبیـــاری ومالـــداری، هریک در محدودهٔ مسئولیت خـــویش می تواند، به منظور تشخیص مصئونیت مواد غـــذایی مفتشـــین را توظیـــف

کړي.

(۲) پلټونکي د لاندې دندو او واکونو لرونکي دي:

۱- د خوراکي توکو د تشبث او د هغه د اطرافو، د حمل او نقل د وسایلو، تجهیزاتو او د تولید د سندونو پلټنه.

۲- د خوراکي توکو د ترکیبي اجزاوو، زیاتوونکو توکو، ضد عفوني کوونکو توکو او د هغو توکو د پروسس پلټنه چې د خوراکي توکو په تولید یا جوړولو کې تر استفادې لاندې نیول کېږي.

۳- د خوراکي توکو په تشبث او د هغهٔ په کارکوونکو کې، د استفاده شوو شیانو پلټنه.

۴- د بسته بندۍ د وسایلو پلټنه، په هغهٔ صورت کې چې مشکوک وي.

۵- د پاکوالي(نظافت) او ضد عفوني کولو پلټنه، د خوراکي توکو د تشبث ساتنه او څارنه.

٦- د لیبل لګونې پلټنه.

۷- د خوراکي توکو، د تولید د شیوې، جوړولو، درجه بندۍ، باربندۍ، بسته بندۍ، ذخیرې او د خوراکي توکو او د

نماید.

(۲) مفتشین دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشند:

۱- تفتیش تشبث مواد غذایی واطراف آن، وسایل حمل ونقل، تجهیزات و اسناد تولید.

۲- تفتیش اجزای ترکیبی مواد غذایی، مواد افزودنی، مواد ضد عفونی کننده و پروسس موادی که درتولید یا ساخت مواد غذایی مورد استفاده قرار می گیرد.

۳- تفتیش اشیای استفاده شده، در تشبث مواد غذایی وکارکنان آن.

۴-تفتیش وسایل بسته بندی در صورتی که مشکوک باشد.

۵-تفتیش نظافت و ضد عفونی نمودن حفظ ومراقبت تشبث مواد غذایی.

٦-تفتیش برچسب گذاری.

۷-تفتیش مواد غذایی، شیوه تولید، ساخت، درجه بندی، باربندی، بسته بندی، ذخیره و فروش مواد غذایی

استفادې وړ توکو د پلور پلټنه.

۸- د خــوراکي توکــو د محتــوي، تجهیزاتو، تولیدي تأسیساتو او نورو شته توکو په هکله، د خــوراکي توکــو د تشبث له خاوند یا مسئول شخص څخه د معلوماتو غوښتل.

۹- د خوراکي توکو وزن، شــمېرنه، اندازه، اخیستل، په نښه کول، پرانستل او له تولید، مادې، بستې یا لوښي څخه د نمونې اخیستل.

۱۰- د ځایونو(محلاتو) مهر ولاک یا تړل او یا ددې قانون د حکمونو مطابق د هغو د فعالیت درول.

۱۱- په هغهٔ ځای کې چې له خوراکي توکو سره ارتباط لري لــه کتــاب او موجودو سندونو څخه کتنه کاپي یــا بیرون نویس کول.

۱۲- د خوراکي توکــو د دســتې د ګڼې(Batch Namber)، د تولیــد د نېټې او د انقضاء د نېټې پلټنه.

۱۳- د اړوندو وسایلو په واســطه، د ثبت شوو بیو مطالبه.

۱۴- عنداللزوم، د هغــې مشــکوکې

ومواد مورد استفاده.

۸- مطالبهٔ معلومات از مالک تشــبث مواد غذایی یا شخص مسئول در مورد محتوای مــواد غــذایی، تجهیــزات، تأسیسات تولیــدی و ســایر مــواد موجود.

۹- وزن، شمارش، انــدازه گیــری، علامه گذاری، بــاز کــردن واخــذ نمونه ها از تولید، ماده، بسته یا ظرف مواد غذایی.

۱۰-مهر ولاک یا بستن محلات ویا متوقف ساختن فعالیت آنها طبق احکام این قانون.

۱۱-معاینه، کاپی یا بیــرون نــویس کردن از کتاب و اسناد موجــود در محل که به مــواد غــذایی ارتبــاط دارد.

۱۲-تفتــیش شــماره دســـــته (Batch Namber)، تاریخ تولیــد و تاریخ انقضای مواد غذایی.

۱۳- مطالبهٔ قیمت های ثبت شــده، توسط وسایل مربوط.

۱۴- توقف، بازرسی واســطه نقلیــه

نقليه واسطې درول، پلټنه(بازرسي) چې خوراکي توکي په هغې کې لېږدېږي، تولید، جوړېږي، برابرېږي، درجه بندی، بسته بندی، باربندي، ذخیره کېږي، تحویل، مصرف یا پلورل کېږي او یا په هغې کې د خوراکي توکو په رابطه نور فعالیتونه صورت مومي.

١٥- ددې قانون له حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې، د ماشین آلاتو، تولیداتو، توکو، شیانو، غیر معیاری کالیو او اړوندو سندونو ضبطول.

١٦- ددې قانون له حکمونو څخه د سرغړوونکي پېژندل او اړوندو وزارتونو ته د هغهٔ معرفي کول.

## له مفتش سره همکاري

**اتلسمه ماده:**

د خوراکي توکو خاوند یا د تشبث مسئول شخص مکلف دی، له پلټونکي سره د دندې د ترسره کولو په وخت کې، همکاري وکړي.

مشکوک که در آن مواد غذایی انتقال، تولید، ساخت، تهیه، درجه بندی ، بسته بندی، باربندی، ذخیره، تحویل، مصرف یا فروخته می شود و یا درآن سایر فعالیت ها در رابطه به موادغذایی صورت می گیرد، عنداللزوم.

١٥- ضبط ماشین آلات، تولیدات، مواد، اشیاء، کالاهای غیر معیاری و اسناد مربوط، درصورت تخلف از احکام این قانون.

١٦- شناسایی متخلف از احکام این قانون ومعرفی آن به وزارت های مربوط.

## همکاری با مفتش

**مادهٔ هجدهم:**

مالک یا شخص مسئول تشبث مواد غذایی مکلف است، با مفتش حین اجرای وظیفه، همکاری نماید.

**د خوراكي توكو د خونـــديتوب د تدبيرونو نيول او د هغو تطبيق**

**نولسمه ماده:**

(۱) د خوراكي توكـــو د خونـــديتوب تدبيرونه د انسان روغتيا ته د خطر له په پام كې نيولو سره او د هغو شرايطو او تګلارو مطابق چې بين المللي سازمانونو په واسطه د خطر د ارزونې لپاره طرحه شوي دي، نيول كېږي.

(۲) د انسان د روغتيا او ژوند د ساتنې پـــه منظـــور، د خـــوراكي توكـــو د خونديتوب تدبيرونه، له استثنې پرته د خوراكي توكو پر كورنيـــو، وارداتـــي توليداتو او ډول ډول عرضه كوونكـــو باندې، د تطبيق وړ دي.

(۳) د خوراكي توكو د تورید تدبيرونه د هغو هېوادونو پر وړاندې چې د يـــو شان يا ورته شرايطو لرونكي وي، لـــه استثناء پرته تطبيقېږي.

**اتخاذ تدابير مصئونيت مواد غذايى و تطبيق آن**

**مادۀ نزدهم:**

(۱)تدابير مصئونيت مواد غذايى با نظر داشت خطربه صحت انسان ومطابق با شرايط و روش هاى كه توسط سازمان هاى بـــين المللـــى بـــراى ارزيـــابى خطر طـــرح شـــده اســـت، اتخـــاذ مى گردد.

(۲)تدابيرمصئونيت مواد غـــذايى بـــه منظورحفاظت صحت و زندگى انسان، بلا استثناء بـــالاى توليـــدات مـــواد غذايى داخلـــى، وارداتـــى وعرضـــه كننـــدگان مختلـــف قابـــل تطبيـــق مى باشد.

(۳) تدابير توريد مواد غذايى در برابر كشورهاى كه داراى شرايط يكسان يا مشابه باشد، بـــلا اســـتثناء تطبيـــق مى گردد.

## له ملي ستندرد سره د خــوراکي توکو نه مطابقت

**شلمه ماده:**

(۱)که چېرې مؤجه دلایل شتون ولري چې ددې قــانون د حکمونــو مغــایر خوراکي توکي تولید شوي دي، د عامې روغتیا وزارت یا د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت هر یــو د خپــل مسئولیت په محدوده کې کولای شي، لاندې تصمیمونه ونیسي:

۱- د خوراکي توکو ضبط.

۲- د خوراکي توکــو د خونــدیتوب ارزونه.

۳- د خوراکي توکو له منځه وړل، په هغهٔ صورت کې چې ثابته شي د انسان د مصرف لپاره مضر دي.

۴- د خوراکي توکو د وتلو اجازه، په هغهٔ صورت کې چې خوندي وي.

(۲)د تجزیې او تحلیل په وخت کې د ذخیــرې لګښــتونه، د خاونــد یــا واردوونکي پر غاړه دي.

## عدم مطابقت مواد غذایی با ستندرد ملی

**مادهٔ بیستم:**

(۱)هرگاه دلایل مؤجه وجود داشــته باشد، که مواد غذایی مغایر احکام این قانون تولید گردیــده اســت، وزارت صحت عامه یا وزارت زراعت، آبیاری ومالــداری هــر یــک در محــدودهٔ مسئولیت خویش می تواند، تصــامیم ذیل را اتخاذ نماید:

۱- ضبط مواد غذایی.

۲- ارزیــابی مصــئونیت مــواد غذایی.

۳-از بین بــردن مــواد غــذایی، در صورتی که ثابت شود برای مصــرف انسان مضر است.

۴-اجازهٔ خروج مــواد غــذایی، در صورتی که مصئون باشد.

(۲)مصارف ذخیره حــین تجزیــه و تحلیل، به عهدهٔ مالک یا وارد کننــده می باشد.

**د خوراكي توكو د خونـــديتوب د تدبيرونو رعايتول**

**يوويشتمه ماده:**

د خوراكي توكو مؤلـــدين او د هغـــو مسئولين مكلف دي، د خوراكي توكو د خونديتوب تدبيرونه رعايت كړي.

## پنځم فصل

## مؤيدات

**جريمه**

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) شخص، د لاندې مواردو له يـــوهٔ څخه د سرغړونې په صورت كې، لـــه احوالو سره سم، له (۱۰۰۰۰) لســـو زرو افغانيو څخه تر(۱۰۰۰۰۰) سلو زرو افغانيو پورې د نغدي جريمې پـــه وركړې مكلف دی:

۱- د رديابۍ د سيستم نـــه رامنځتـــه كېدل.

۲- د خوراكي توكو د حفظ الصحې نه رعايتول.

۳- د مقررو، كړنلارو او ستندردونو

**رعايت تدابير مصـــئونيت مـــواد غذايی**

**مادهٔ بيست ويكم:**

مؤلدين مواد غذايی ومســـئولين آنهـــا مكلف اند، تدابير مصـــئونيت مـــواد غذايی را رعايت نمايند.

## فصل پنجم

## مؤيدات

**جريمه**

**مادهٔ بيست ودوم:**

(۱) شخص، در صورت تخلف يكی از موارد ذيل، حسب احوال مكلف بـــه پرداخت جريمهٔ نقـــدی از (۱۰۰۰۰) ده هزار افغـــانی الـــی ( ۱۰۰۰۰۰ ) يكصـــــد هـــــزار افغـــــانی می باشد:

۱- عـــــدم ايجـــــاد سيســـــتم رديابی.

۲- عدم رعايت حفظ الصحهٔ مـــواد غذايی.

۳- عـــدم رعايـــت مقـــرره هـــا،

نه رعايتول.

۴- ددې قانون او د اړوندو مقررو د حکمونو مطابق، د خوراکي توکو په بستو کې لېبل نه لګول.

۵- د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو نه رعايتول.

۶- د اخطار نه رعايتول.

۷- له پلټونکي سره نه همکاري.

۸- پلټونکي ته د غلطو معلوماتو وړاندې کول.

(۲) شخص، د لاندې مواردو له يوهٔ څخه د سرغړونې په صورت کې، له احوالو سره سم، له (۱۰۰۰۰۰) سلو زرو افغانيو څخه تر(۵۰۰۰۰۰) پنځه سوو زرو افغانيو پورې د نغدي جريمې په ورکړې مکلف دی:

۱- د حرامو خوراکي توکو توليد، واردول، صادرول، وېشل او پلورل.

۲- په غير صحي حالت کې د خوراکي توکو برابرول، ذخيره، وېشل او پلورل.

۳- د غير صحي خوراکي توکو پلورل.

۴- ددې قانون د حکمونو مغاير د

طرزالعمل ها و ستندردها.

۴- عدم برچسب گذاری در بسته های مواد غذایی مطابق احکام این قانون و مقررهٔ مربوط.

۵- عدم رعايت تدابيرمصئونيت مواد غذايی.

۶- عدم رعايت اخطار.

۷- عدم همکاری با مفتش.

۸- ارائه معلومات غلط برای مفتش.

(۲) شخص، در صورت تخلف يکی از موارد ذيل، حسب احوال مکلف به پرداخت جريمهٔ نقدی از( ۱۰۰۰۰۰ ) يکصد هزار افغانی الی ( ۵۰۰۰۰۰ ) پنجصد هزار افغانی می باشد:

۱- توليد، توريد، صدور، توزيع و فروش مواد غذايی حرام.

۲- تهيه، ذخيره، توزيع وفروش موادغذايی درحالت غير صحی.

۳- فروش مواد غذايی غير صحی.

۴- توليد، توريد، صدور، تهيه، ذخيره

خـــوراکي توکـــو توليـــد، واردول، صادرول، برابرول، ذخيره او پلورل.

۵- په درواغو او تېر ايستونکي توګه د خوراکي توکو بسته بندي، لېبل لګول يا پلورل.

۶- د تېـــر ايســـتونکي او بـــې لارې کوونکي اعلان خپرول.

۷- له قانوني مجوز پرته فعاليت.

۸- په دې قانون کـــې د درج شـــوو شرايطو نه بشپړول.

۹- د اخيستل شوي نمونې بدلول.

۱۰- د پلټونکي له اجازې پرتـــه، د مهر ولاک يا د علامه ګذارۍ د بدلولو له منځه وړل.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲ ) فقرو کې په درج شوو حالاتو کې، که چېرې د سرغړوونکي د پـــانګې انـــدازه لـــه (۱۰۰۰۰) لسو زرو افغانيو څخه لـــږ وي، له احوالو سره سم، تر (۳۰۰۰) دريو زرو افغانيو پورې د نغدي جريمې په ورکړې مکلف دی.

(۴) که چېرې ددې مادې په ( ۱، ۲ او ۳) فقرو کې درج شوې ســـرغړونه

وفروش موادغذايی مغايراحکـــام ايـــن قانون.

۵- بسته بندی، برچسب گذاری يـــا فروش مواد غذايی به شکل کـــاذب و فريبنده.

۶- نشر اعـــلان فريبنـــده وگمـــراه کننده.

۷- فعاليت بدون مجوزقانونی.

۸- عدم تکميل شرايط مندرج ايـــن قانون.

۹- تغيير نمونۀ اخذ شده.

۱۰- از بين بـــردن مهـــر ولاک يـــا تغييرعلامه گـــذاری، بـــدون اجـــازۀ مفتش.

(۳) در حالات مندرج فقـــره هـــای (۱و۲) اين ماده، هرگاه اندازۀ سرمايه متخلف کمتر از(۱۰۰۰۰) ده هـــزار افغانی باشد، حسب احوال مکلف بـــه پرداخـــت جريمـــۀ نقـــدی الـــی (۳۰۰۰) ســـه هـــزار افغـــانی می باشد.

(۴) هرگاه تخلف مندرج فقره هـــای (۱، ۲ و۳) ايـــن مـــاده بـــار دوم

دوه یم ځل تکرار شي، سرغړوونکی په دې ماده کې د پېشبیني شوې نغـــدي جریمې په اکثر حد ورکړې مکلف دی.

(۵) که چېرې ددې مادې پــه (۱، ۲ او۳) فقرو کې درج شوې ســرغړونه دریيم ځل تکرار شي، د هغهٔ جواز لغو کېږي.

(٦) ددې مادې په (۱ ، ۲ او ۳) فقرو کې درج شوې جریمـــې، د دولـــت د وارداتو په حساب، بانک ته تحویلېږي.

(۷) کـــه چېـــرې ددې مـــادې پـــه (۱، ۲ او ۳) فقرو کـــې درج شـــوې سرغړونې انسان ته د نـــاروغیو پـــه سرایت یا مړینې تمامې شي، مرتکب د قانون د حکمونو مطابق مجازات کېږي.

(۸) په هغهٔ صورت کې، چې خوراکي توکي مضر یا حرام وي له منځـــه دې یووړل شي او فاعل دې عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي او له قانون سره سم دې مجازات شي.

تکرارشود، متخلـــف بـــه پرداخـــت حداکثر جریمهٔ نقدی پیش بینی شده این ماده مکلف می باشد.

(۵) هرگـــــاه تخلـــــف منـــــدرج فقره های (۱،۲و۳) این ماده بارسوم تکـــرار شـــود، جـــواز وی لغـــو می گردد.

(٦) جریمه های مندرج فقـــره هـــای (۱، ۲ و۳)این ماده به حساب واردات دولت، تحویل بانک می گردد.

(۷) هرگاه تخلفات مندرج فقره های (۱ ،۲و۳) این ماده منجر به ســـرایت امراض یا مرگ انسان گردد، مرتکب طبـــق احکـــام قـــانون مجـــازات می گردد.

(۸) در صورتی که مواد غذایی مضر یا حرام باشداز بین برده شود و شـــخص فاعل به ارگان های عدلی و قضـــایی معرفی و مطـــابق قـــانون مجـــازات گردد.

## د شکایت حق

**دروېشتمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې د عامې روغتیا وزارت یا کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اجراآتو له امله متضرر شي، کولای شي د (۱۰) کاري ورځو په ترځ کې، د خوراکي توکو د خوندیتوب ملي بورډ ته شکایت وکړي.

(۲) که چېرې متضرر د خوراکي توکو د خوندیتوب دملي بورډ په نیول شوي تصمیم قناعت ونلري، کولای شي محکمې ته مراجعه وکړي.

## شپږم فصل

## متفرقه حکمونه

### د خوراکي توکو د خوندیتوب اضطراري حالت

**څلېرویشتمه ماده:**

د عامې روغتیا وزارت یا کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د خوراکي توکو د خوندیتوب په اضطراري حالت کې، یوله لاندې تصمیمونو څخه نیسي:

## حق شکایت

**مادهٔ بیست وسوم:**

(۱)شخصی که بالاثر اجرآآت وزارت صحت عامه یا وزارت زراعت، آبیاری و مالداری متضرر گردد، می تواند درخلال (۱۰) روز کاری، به بورد ملی مصئونیت مواد غذائی شکایت نماید.

(۲)هرگاه متضرر به تصمیم اتخاذ شدهٔ بورد ملی مصئونیت مواد غذایی قناعت نداشته باشد، می تواند به محکمه مراجعه نماید.

## فصل ششم

## احکام متفرقه

### حالت اضطراری مصئونیت مواد غذایی

**مادهٔ بیست وچهارم:**

وزارت صحت عامه یا وزارت زراعت، آبیاری ومالداری، درحالت اضطراری مصئونیت مواد غذایی، یکی از تصامیم ذیل را اتخاذ می نماید:

۱- دخوراکي توکو د تولید، واردولو، صادرولو، برابرولو یا پلورلو منع.
۲- د خوراکي توکو په تولید او برابرولو کې د شرایطو وضع کول.
۳- تر مؤقتې ساتنې لاندې راوستل او د خوراکي توکو ساتل د هغو د خوندیتوب د تأیید تر وخته.
۴- د لزوم په صورت کې، د خوراکي توکو ازمویل، تجزیه او تحلیل.
۵- د ککړو خوراکي توکو له منځه وړل.

ردیابي

پنځه ویشتمه ماده:

(۱) د خوراکي توکو د تشبث خاوند مکلف دی، د خوراکي توکو د تدارک کوونکو او پیرودونکو د پېژندلو په منظور، د ردیابۍ سیستم رامنځته او تطبیق کړي.

(۲) د خوراکي توکو د تشبث خاوند مکلف دی، په سیستم کې راټول شوي معلومات عندالمطالبه د عامې روغتیا وزارت یا د کرنې، اوبو لګولو او

۱-منع تولید، تورید، صدور، تهیه یا فروش مواد غذایی.
۲-وضع شرایط درتولید و تهیه مواد غذایی.
۳-تحت حفاظت قراردادن مؤقت و نگهداری مواد غذائی الی زمان تائید مصئونیت آن.
۴-آزمایش، تجزیه وتحلیل مواد غذایی در صورت لزوم.
۵-از بین بردن مواد غذایی آلوده.

ردیابی

مادۀ بیست وپنجم:

(۱) مالک تشبث مواد غذایی مکلف است، به منظور شناسایی تدارک کنندگان و مشتریان مواد غذایی، سیستم ردیابی را ایجاد وتطبیق نماید.

(۲) مالک تشبث مواد غذایی مکلف است، عندالمطالبۀ وزارت صحت عامه یا وزارت زراعت، آبیاری ومالداری، معلومات جمع آوری شده درسیستم

مالدارۍ وزارت په واک کې ورکړي.

## د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو معادله

**شپږويشتمه ماده:**

د صادروونکي هېواد د خوراکي توکو د خونديتوب تدبيرونه، د افغانستان يا نورو هېوادونو د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو له معادل سره که څه هم متفاوت وي، منل کېداى شي، پدې شرط چې صادروونکى هېواد ثابته کړي چې د خوراکي توکو د خونديتوب نيول شوي تدبيرونه، واقعاً د افغانستان د اړتيا وړ ملاتړ سطحې ته تحقق وربښي.

## د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو خپرول او خبر ورکول

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې د عامې روغتيا وزارت يا کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت لازمه وبولي د خوراکي توکو د خونديتوب په تدبيرونو کې هغه تعديلونه چې د بين المللي ستندردونو مطابق نه

را، در اختيار آنها قرار دهد.

## معادله تدابير مصئونيت مواد غذايى

**مادۀ بيست وششم:**

تدابيرمصئونيت مواد غذايى کشور صادر کننده، با معادل تدابير مصئونيت مواد غذايى افغانستان يا ساير کشورها گرچه متفاوت باشد، پذيرفته شده مى تواند، مشروط بر اينکه کشور صادر کننده ثابت نمايد که تدابير مصئونيت مواد غذايى اتخاذ شده، واقعاً سطح حمايت مورد نياز افغانستان را تحقق مى بخشد.

## نشر واطلاع دهى تدابير مصئونيت موادغذايى

**مادۀ بيست وهفتم:**

(۱) هرگاه وزارت صحت عامه يا وزارت زراعت، آبيارى ومالدارى لازم داند در تدابيرمصئونيت مواد غذايى تعديلات را که مطابق ستندرد هاى بين المللى نباشد

وي، وارد يا نوې طرحه لـه پړاوونـو څخه تېره کړي، مکلف دي موضوع د طرحې له نهايي کېدو څخه(٦٠) ورځې مخکې د حيواني او نباتي حفظ الصحې د معلوماتو او خبرورکونې ملي مرکـز (SPS-ENP) لـه لارې، د نړيـوالې سوداګرۍ سازمان او عامه خلکو ته د نظر غوښتنې په منظور، خبرورکړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې پـه درج شوي حالت کې، ترلاسه شـوې نظرېې د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو له نيولو څخه دمخه، له تبعيض پرته په نظر کې نيول کېږي.

(۳) په عاجلو حالاتو کې، د خوراکي توکو د خونديتوب د تدبيرونو طرحه د خبرتيا له صادرېدو د مخـه نافـذه، د عامې روغتيا وزارت يا د کرنې، اوبـو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دي، موضوع لـه ځنـډ پرتـه د نړيـوالې سوداګرۍ سازمان او عامه خلکو تـه، خبر ورکړي.

(۴) د حيواني او نباتي حفظ الصحې د معلوماتو او خبر ورکونې ملي مرکـز

وارد يا طرح جديدی را طی مراحـل نمايد، مکلف است موضـوع را(٦٠) روز قبل از نهايی شدن طرح، ازطريق مرکزملـی معلومـات و اطـلاع رسانی حفظ الصحۀ حيـوانی ونبـاتی (SPS- ENP) به منظور نظر خواهی به سازمان تجارت جهانی و عامۀ مردم اطلاع دهد.

(۲) در حالت مندرج فقـرۀ(۱) ايـن مـاده نظريـات حاصـله قبـل از اتخاذ تدابيرمصئونيت مواد غـذائی، بـدون تبعـيض در نظـر گرفتـه می شود.

(۳) درحـالات عاجـل، طـرح تدابير مصئونيت مواد غذايی قبـل از صدور اطلاعيۀ نافذ، وزارت صـحت عامه يـا وزارت زراعـت، آبيـاری ومالـداری مکلـف اسـت، موضوع را بدون تأخير بـه سـازمان تجارت جهانی وعامه مـردم اطـلاع دهد.

(۴) مرکـز معلومـات و اطـلاع رسانی حفظ الصحۀ حيـوانی ونبـاتی

(SPS-ENP) مکلف دي، د متقاضي د غوښتنلیک پربنسټ، د خوراکي توکو د خوندیتوب د تدبیرونو په رابطــه د بین المللي موافقــه لیکونــو مطــابق، معلومات وړاندې کړي.

(۵) د نړیوالې سوداګرۍ سازمان ته د معلوماتو د اخیستلو او وړاندې کولو په منظور، د حیواني او نباتي حفظ الصحې د معلوماتو او خبر ورکونې ملي مرکز (SPS-ENP)، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ پــه وزارت کــې رامنځتــه کېږي.

(٦) د حیواني او نباتي حفظ الصحې د معلوماتو او خبر ورکونې د ملي مرکز (SPS-ENP)، د فعالیـــت ډول، د معلوماتو وړاندې کول او د حق الزحمې ورکړه، په اړونده مقرره کې تنظیمېږي.

## د مقررو او کړنلارو وضع کول

**اته ویشتمه ماده:**

د عامې روغتیــا وزارت او د کرنــې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق

(SPS-ENP) مکلف اســت، طبــق موافقتنامه های بین المللی در رابطه به تدابیر مصئونیت مواد غذایی به اساس درخواست متقاضی، معلومات ارائــه نماید.

(۵) مرکز ملی معلومــات و اطــلاع رسانی حفظ الصحۀ حیــوانی ونبــاتی (SPS-ENP)، بــه منظــور اخــذ و ارائــه معلومــات بــه ســازمان تجارت جهانی، در وزارت زراعــت، آبیــــاری ومالـــــداری ایجـــــاد می‌گردد.

(٦) طرز فعالیت مرکز ملی معلومات و اطلاع رسانی حفظ الصحۀ حیــوانی و نباتی (SPS-ENP)، ارائه معلومات و پرداخت حق الزحمه در مقررۀ مربوط تنظیم می گردد.

## وضع مقرره ها وطرزالعمل ها

**مادۀ بیست وهشتم:**

وزارت صحت عامه و وزارت زراعت، آبیاری و مالداری مــی تواننــد بــه منظورتطبیق بهتر احکام این قانـــون،

په منظور، مقررې وړانـــدیز او هغـــه کړنلارې چې ددې قـــانون او نـــورو قوانینو د حکمونو مغـــایر نـــه وي، د خوراکي توکو د خوندیتوب د ملي بورډ له تأیید دې وضع کړي.

## د خوراکي توکو د خوندیتوب پـــه شرایطو کې د منفي اغېزو راکمول (تقلیل)

نهه ویشتمه ماده:

د عامې روغتیا وزارت او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دي، له کورنیو تولیداتو څخه د ملاتـــړ پـــه منظور، د وارداتي محصولاتو د پلټنـــې (بازرسۍ) د کړنلارو د وضع کولو پر وخت، لاندې مراتب په پام کې ونیسي:

۱- د خوراکي توکو پر ســـوداګرۍ باندې د منفي اغېزو راټیټول.

۲- دمعلوماتو دوړاندې کولو، کنترول، پلټنې او د تولید د تأیید شرایط.

۳- د معلوماتو د محرمیت ساتنه.

مقرره ها را پیشنهاد وطرزالعمل های را که مغایر احکام این قانون وسایر قوانین نباشد، بعـــد از تائیـــد بـــورد ملـــی مصـــئونیت مـــواد غـــذایی وضـــع نمایند.

## تقلیـــــل اثـــــرات منفـــــی در شـــــرایط مصـــــئونیت مـــــواد غذایی

مادهٔ بیست ونهم:

وزارت صـــحت عامـــه و وزارت زراعت، آبیاری ومالداری مکلف، بـــه منظور حمایت از تولیدات داخلی حین وضـــع طرزالعمـــل هـــای بازرســـی محصولات وارداتی، مراتب آتی را در نظر گیرند:

۱-کاهش تأثیرات منفی بالای تجارت مواد غذایی.

۲- شرایط ارائه معلومات، کنتـــرول، تفتیش و تائید تولید.

۳-حفظ محرمیت معلومات.

## د انفاذ نېټه

**دېرشمه ماده:**

**دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه يوه مياشت وروسته، نافذېږي او په نافذېدو سره يې مغاير حکمونه، ملغي ګڼل کېږي.**

## تاريخ انفاذ

**مادهٔ سی ام:**

**اين قانون يک ماه بعد از تاريخ نشر در جريدهٔ رسمی نافذ می گردد وبا انفاذ آن احکام مغاير، ملغی پنداشته می شود.**

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات : (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

Extraordinary Issue

- Annexed to No(1)the law on Commercial Procedure published on Official Gazette No(1,2,3,4)Year1343
- Law on Food Security
- Annexed to No(1)law of Criminal proceedings on Terroristic Crimes and Crimes against National and Foreign Security

**Date:6th SEPTEMBER .2016**
**ISSUE NO :(1222)**